د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

یکشنبه ۱۳ ربیع الثاني ۱۴۳۹هـ | ۳۱-۱۲-۲۰۱۷م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۲

**مطبوعاتي اعلامیه**

## د کورنیو عوایدو زیاتوالی "لاسته راوړنه" نه؛ بلکې د افغانستان پر مظلومو خلکو د پانګوالي نظام ظلم دی

د افغانستان د مالیې وزیر اعلان وکړ، چې په روان کال کې د دغه هېواد کورني عواید کابو ۱۷۰میلیارده افغانیو ته رسېدلي. دا شمېره په تېرو ۱٦ کلونو کې بې‌ساري ده او د افغانستان دولت لپاره د نړیوالو بنسټونو له ټاکلې موخې څخه لوړه ده. د مالیې وزارت دا موضوع د افغانستان دولت لپاره یوه "لاسته راوړنه" بللې ده.

موږ د دولت د عوایدو زیاتوالی "لاسته راوړنه" نه؛ بلکې د خلکو د جیبونو او دسترخوان لوټول بولو؛ ځکه دا شمېره د واقعي اقتصادي ودې، د ریښتینو بنسټونو د رامنځ ته کولو، د تولیداتو له زیاتوالي او د خلکو د ژوند د کچې د لوړوالي او سوکالۍ له امله په لاس نه ده راغلې. برعکس دا عواید زیاتره د ګمرکي محصولاتو، پر شرکتونو او صنفي اتحادیو باندې د مالیاتو د وضع کولو له لارې راټول شوي، چې درووند بار یې بېوزله خلک پورته کوي.

د افغانستان دولت تېر کال د پیسو د نړیوال صندوق او نړیوال بانک په توصیه نوې مالیاتي کڅوړه لکه: د موبایل پر کارتونو ٪۱۰ مالیه، پر تجارتي معاملاتو دوه چنده مالیه، د هوایي حق العبور د فیس زیاتوالی او پر ځینو ګمرکي محصولاتو د تعرفو زیاتوالی، چې لومړنۍ بشري اړتیاوې پوره کوي، وضع کړې ده. دا حالت د تورم د رامنځته کېدو، د پانګونې د کچې د ټیټېدو او د بېکارۍ او فقر د زیاتېدو لامل کېږي، چې ویجاړوونکې اغېزې یې د خلکو د ژوند په ټولو برخو کې محسوسې دي.

د عوایدو دا ډول شمېرې که هر څومره لوړې شي، یوازې یو کمیت او د اعدادو بې ارزښته لړۍ ده، چې زیاتوالی یې یوازې له نړیوالو بنسټونو څخه د دولت د کرېډېټ اخیستو لامل کېږي، د خلکو پر ژوند هېڅ مثبت اغېز نه لري او دا د خلکو له جېبونو او دسترخوان څخه یو ډول غلا ده.

**د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**